د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د تصاويبو مديريت

د متحدالمآلونو څانګه

نېټه: ۲۸/ ۱۲/ ۱۴۴۴ هـ ق

مصادف: ۲۵/ ۴/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د متحدالمآل ګڼه: ٦٣


د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۱۲/۲۴هق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د يوويشتمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې دوه يمه موضوع داسې وه: ((د سترې محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هق کې هدايت شوی وو چې: په حقوقي موضوعاتو کې چې مربوطه محکمې ته د مدعي د عريضې وړاندې کولو په وخت، مدعی عليه په کومه ساحه کې سکونت درلودی د همهغه ساحې محکمه د موضوع د حل او فصل صلاحيت لري، د مدعي تر عريضې وروسته د مدعی عليه بل ځای سکونت اختيارول اعتبار نه لري او د محکمې د موضوع د حل او فصل پر صلاحيت باندې کوم اثر نه لري.)

اوس پوښتنه دا ده: په ياد صورت کې د استيناف مرحله يې په هغه ولايت کې طی شي چې په کوم ولايت کې د ابتدائيه محکمې فيصله شوي ده او که د هغه ولايت په استيناف محکمه کې د موضوع په اړه اصولي اجرآت ترسره شي چې مدعی عليه د ابتدائيه محکمې تر فيصلې وروسته هلته سکونت اختيار کړی دی؟))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(٤٦)مورخ۱۴۴۴/۱۲/۲۴هق مصادف۱۴۰۲/٤/۲۱هش د دوه يمې پريکړې په اساس په لاندې ډول هدايت وکړ:

((په حقوقي موضوعاتو کې چې مربوطه محکمې ته د مدعي د عريضې وړاندې کولو په وخت مدعی عليه په کومه ساحه کې سکونت درلودی د همهغه ساحې محکمه د موضوع د حل او فصل صلاحيت لري، د مدعي تر عريضې وروسته د مدعی عليه بل ځای سکونت اختيارول اعتبار نه لري او د محکمې د موضوع د حل او فصل پر صلاحيت باندې کوم اثر نه لري.

همدارنګه د استيناف مرحله دې په هغه ولايت کې طی شي په کوم ولايت کې چې د ابتدائيه محکمې فيصله شوي ده.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجرآت تر سره شي.

په درنښت

۲۸ ۱۲ ۱۴۴۴ هـ ق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلورلارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af